**د ملی پیوستون پروګرام د اغیزو ارزونه**

ډېرې تکرارېدونکې پوښتنې

مارچ، ۲۰۱۳

**۱. پوښتنه: د اغیزو ارزونه څه شی دی؟**
ځواب: یوه میتودولوژیکه مطالعه ده، چې د ځانګړو شاخصونو له مخې یوه پروژه، پروګرام او یا پالېسي ارزوي او اغېزې یې اټکلوي .

**۲. پوښتنه: له کومو شاخصونو څخه کار واخیستل شو؟**
ځواب: نتیجوی شاخصونه انتخاب شوي دي، چې معلومه کړي، چې کومې مداخلې په متوقعه ډول کیدای شي اغیزمنې شي .

**۳. پوښتنه: د اغېزو ارزونه څومره وخت نیسي؟**
ځواب: د یوې پروژې، پروګرام یا کړنلارې پلي کولو او بشپړولو په پرتله زیات وخت نیسي. د بیلګې په توګه، د ملي پیوستون پروګرام د اغیزو ارزونې د میتودولوژي له وخته د معلوماتو د راټولو تر بشپړېدو پورې یې نږدې پنځه کاله وخت ونیو .

**٤. پوښتنه: دا ارزونه ولې زیات وخت نیسي؟**
ځواب: ځکه چې د ارزونې لپاره په درېو پړاوونو کې، د پروګرام تر بشپړېدو مخکې ( لومړنی سروې)، د پروګرام د پلي کېدو په جریان کې (منځنی سروې) او د پروګرام تر بشپړېدو وروسته ( وروستی سروې)، د معلوماتو راټول زیات وخت غواړي چې بدلونونه (اغیزې) اټکل کړي .

**۵. پوښتنه: د ملي پیوستون پروګرام د اغېزو ارزونه څه ډول ترسره شوه؟**
ځواب: ارزونه په ۲۰۰۷ کال کې کله چې د لومړنی سروې معلومات راټول شول، پیل شوه، منځني معلومات په ۲۰۰۹ کال کې او د وروستی سروې معلومات هم په ۲۰۱۱ کال کې د فرعي پروژو تر بشپړېدو وروسته راټول شول .

**٦. پوښتنه: ایا د ملي پیوستون پروګرام پروژې، د معلوماتو راټولو د لومړنی سروې په بهیر کې، روانې وې؟**
ځواب: ارزونه د ملي پیوستون پروګرام په دوهم پړاو کې تر سره شوه، چې په ۲۰۰۷ کال کې پیل او په ۲۰۱۱ کال کې بشپړه شوه .

**۷. پوښتنه: که داسې وي، نو ایا د دې ارزونې موندنې د دې پروګرام د درېیم پړاو له اغېزو سره کومه رابطه لري؟**
ځواب: هو، تر دې مهاله د ملي پیوستون په درېیم پړاو کې مداخلې د دې پروګرام د دوهم پړاو په شان دي .

**۸. پوښتنه: د لومړنی سروې ، منځنی سروې او وروستی سروې معلومات له کومو ځایونو څخه تر لاسه شول؟**
ځواب: معلومات او ارقام له هغو کورنیو څخه چې په هغو کلیو کې چې هلته د ملي پیوستون پروګرام پلي شوی وو (اصلي کلي) او هغو کلیو کې چېرې چې د ملي پیوستون پروګرام نه وو پلي شوي، ټاکل شوې وې، راټول شوي دي. د لومړنی سروې معلومات د ملي پیوستون پروګرام له پیل نه مخکې، د منځنی سروې معلومات د پروګرام له پیل نه دوه کاله وروسته او دوروستی سروې معلومات د پروژې له بشپړېدو وروسته راټول شول .

**۹. پوښتنه: څومره اصلي او څومره کنترولي کلي سروې شوي دي؟**
ځواب: ۲۵۰ اصلي کلي او ۲۵۰ کنټرولي کلي .

**۱۰. پوښتنه: ولي د اصلي او کنترولي کليو شمېر مساوي و؟**
ځواب: دا ډېر مهمه ده، چې د اصلي کليو او کنټرولي کليو تر منځ توازن موجود وي .

**۱۱. پوښتنه: دغه کلي په کومو ولسواليو کې پراته دي؟**
ځواب: دا کلي په بلخ، خوست و فرنګ، سنګ تخت، دولينه، اندرسکن، چشت شريف، ګلران، فارسي، حصارک او شيرزاد ولسواليو کې موقعيت لري .

**۱۲. پوښتنه: اصلي کلي څنګه د ۵۰۰ کليو له منځه د بېلګي په توګه غوره شول؟**
ځواب: د يوې پروسي له لارې، چې د "په جوړه يي ډول د کلسترونو د تصادفي انتخابګ په نامه يادېږي، غوره شول .

**۱۳. پوښتنه: دا څه معنی لري؟**
ځواب: په لنډ ډول، دا په دې معنی ده، چې د ارزونې د ۵۰۰ کليو څخه هر کلي له خپل زيات ورته کلي سره پرتله شو او په دې ترتيب ۲۵۰ جوړې رامنځته شوې، وروسته د هرې جوړې لپاره يو کلی په تصادفي ډول انتخاب شو، چې هلته د ملي پيوستون پروګرام پلي شي ( اصلي کلی) او په بل کلي کې پلي نشي ( کنټرولي کلی). د کلستر جوړونې برخې يقيني کړه چې کلي يو د بل په ګاونډ کې پراته دي، چې کېدای شي په ټولو کې د ملي پيوستون پروګرام پلی شي او يا هم پلی نشي. دا کار د دې لپاره تر سره شو چې د تخمين کولو پر مهال د زياتو اغېزو د پيچلتيا مخه ونيول شي .

**۱٤. پوښتنه: د کنټرولي کليو اوسېدونکي ښايي پدې خوابدي شوي وي چې لا تر اوسه يې د ملي پيوستون پروګرامه ګټه نده** اخيستې. ايا دې حالت په ارزيابی کې د دوی د برخې اخيستنې تمايل ټکنی نه کړ؟
ځواب: هغوی له ارزونې خبر نه وو- خو کله چې وروستی سروې په ۲۰۱۱ کال کې بشپړه شوه، نو د کنټرولي کليو لپاره هم د ملي پروګرام پروژه په پام کې ونيول شوه .

**۱۵. پوښتنه: د ارزونې لپاره د معلوماتو د راټولولو په موخه له څو کسانو سره مرکه وشوه؟**
ځواب: له زيات شمېر خلکو سره. سروې په دريو پړاوونو کې تر سره شوه- لومړنی سروې په ۲۰۰۷ کال کې، منځنی سروې په ۲۰۰۹ کال کې او وروستی سروې په ۲۰۱۱ کال کې. په ټوليزه توګه له څه باندې ۲۵۰۰۰ کورنيو سره د ښځو او نارينه وو په ګډون مرکې تر سره شوې .

**۱٦. پوښتنه: آيا د معلوماتو راټولولو په بهير کې ګروپي ناستې جوړې نشوې؟**
ځواب: هو او نه. د دريو سروې ګانو په اوږدو کې د نږدې ۲٦۰۰ ډلييزو ناستو پوښتنپاڼې د کليو د نارينه او ښځينه مشرانو لخوا ځواب کړل شوې. ياده دې وي چې دا ډلييزې ناستې په خپل ذات کې مباحثوي نه وې، بلکې په حقيقت کې معمولې کميټې سروې ګانې وې( سره له دې چې په ډلييز ډول تر سره شوې). مرکه کوونکو ته ځانګړې شمېر پوښتنې ورکړل شوې وې ( د کورنيو د سروې په شان)، چې د ځوابوونکو له يوې ډلې يې وپوښتي .